# شمالي وزيرستان کې په ځانمرګو بريدونو کې ښکيل تر ټولو مطلوب ترهګر وژل شوی

د شمالي وزيرستان ميرعلي سيمه کښې د سکيورټي ادارو کاميابي عمليات شوي دي ـ په ځانمرګي بريدونو کې ککړ تر ټولو مطلوب ترهګر عمر خطاب عرف طلحه وژل شوی، وسلې، مهمات او مواصلاتي آلات ترلاسه شوي دي ـ





ترهګر عمر خطاب په ميرعلي او شاوخوا سيمو کې د ځانمرګو بريدونو اصلي سمبالوونکی او تسهيل کوونکی و چې په ډيرو ځانمرګو بريدونو کې يې لاس درلود۔ د تېښتې د هڅې له ناکامېدو وروسته د ترهګرو او امنيتي ادارو تر منځ سخته نښته شوې، چې د ډزو په تبادله کې ترهګر وژل شوی دی ـ